

# د افت ضد درملو پاشونکی ماشین –
# څلور اربه بیز \ ګاډی ډوله

معلوماتي پاڼه

## د افت ضد درملو څلور ارابه بیز \ ګاډی ډوله شیندونکی څه شی دی؟



د پي بي ایم شرکت څلور اربه بیز درمل پاشونکی [1]

څلور ارابه بیز \ ګاډی ډوله درمل شیندونکي د افت ضد درملو هغه کوچني، ګرځنده، او په موټوري پمپ سمبال درمل شیندونکي دي چي له کوچنیو څخه نیولې تر منځنیو کروندو او باغونو لپاره پوره مناسب دي. دغو دواپاشونکو ته په لاس یا د باغ د ټراکټور په واسطه حرکت ورکول کیږي، او په آسانۍ سره د یوه یا دوو کسانو په واسطه د استعمال وړ دي.

## د څلور ارابه بیز \ ګاډی ډوله دواپاشونکو مهمي ځانګړتیاوي

**ټانکی:** ۱۱۳ لیټره ظرفیت لري، چي پر ملا باندي د ټړل کیدونکي معیاري دواپاش د ټانکۍ په نسبت چي ۱۸ لیټره ځایولای شي، شپږ چنده لویه ده. په دې ډول درمل شیندونکي کې یو ښوروونکی ماشین هم ځای پر ځای شوی دی، چي د افت ضد درملو د لنډیدونکو پوډرو او اوبلن کیدونکو ګاته درملو لپاره ضروري دی.

**موټور لرونکی پمپ:** که څه هم چې د دې درمل شیندونکي پمپ او ماشین له خوښي سره سم سره جلا کیدای شي، یو موټوري پمپ لکه جي اي – ۷۵ هونډا لږ پرزې لري او ډیر دوامداره دی. د دوا د پمپولو اعظمي حد یې په یوه دقیقه کې ۹۱ لیټره دی. د فشار تر ټولو لوړه کچه یې ٤,٥ بار (٥٦ پي اس ای) دی.

**لوړ فشار لرونکی پایپ:** پایپ له داسي یو پمپ سره چي پورته ذکر شوی قوت او فشار لري، بې له کومي ستونزي ۳۰ متره اوږدوالی درلودلای سي او د خوښي وړ کار کولای سي.





لوړ فشار درلودونکي دوا پاشونکي توپنچې [2،3]

**د دواپاشونکي توپنچه:** که څه هم چي دا په ضرورت او د ماشین په استعمال اړه لري، بیا هم یو څوک کولای سي چي له خپلي خوښي سره سمه توپنچه وکاروي. کوچنۍ یولاسي درمل شیندونکي توپنچه لږ وزن لري او په یوه لاس د کارولو وړ ده. اوږده درمل شیندوکی توپنچه درنه ده او ځیني وختونه یې د کارولو په وخت کي دوو لاسونو ته اړتیا پیدا کیږي، ښه والی یې دا دی چي د دواپاشۍ په وخت کي درمل د کارګر له ځان څخه لا لیري وي.

**جوړښت او ارابې:** د لویو ارابو په درلودلو سره چي جګوالی یې ۳۰ او پلنوالی یې ۱۳ سانتۍ دی، په آسانۍ سره پر ناهواره یا کنډوکپړ مځکه د حرکت وړتیا لري. دا ګاډی د مخ د اکسل د تاو کولو په وسیله اداره کیږي، لکه د کوچنیانو ګاډی.




د څلور اربه بیز دواپاشونکي اصلي برخي [4]

## د څلور ارابه بیز درمل شیندونکی په اړه یادوني:

هغه کارګران چي څلور ارابه بیز \ ګاډی ډوله دواپاشونکي کاروي، کیدای شي په آسانۍ سره د افت ضد درملو له خطر سره مخامخ شي، ځکه چي د درمل شیندوکي ماشین د نل خوله کارګر ته ډیره نژدې وي. د ځان د محافظتي اسبابو اغوستل او د افت ضد درملو د ټاپې د لاربښوونو تعقیبول د خطر د مخنیوي لپاره ډیر مهم دي. پر دې سربیره، کارګران باید د سر د پاسه دواپاشي ونه کړي او په دې ډول په درملو باندي ځان ککړ نه کړي. د ساکښني په وخت کې هم محافظت ته زیاته اړتیا ده. د خوندیتوب په اړه نورو معلوماتي پاڼو ته مراجعه وکړئ.

ترتیب کوونکي: فرانک زلوم، پات تامپسن، نهضت الله نهضت (پین)، مارک هیندرسن او مارک بیل، جولای ۲۰۰۹

**ماخذونه:** له پي بي ایم عرضه کوونکي او تولیدوونکي شرکت څخه خاصه مننه
http://www.pbmsprayers.com/ag/leftnav_php/lawn_and_garden.php

**د انځورونو کریډیټ:** [1] پي بي ایم عرضه کوونکی او تولیدوونکی شرکت. [2] ماسترلاین یونیوار [3] او اس ایچ ای [4] مارک هیندرسن

**د لا زیاتو معلوماتو لپاره وګورئ:** نړیوال پروګرامونه: http://ip.ucdavis.edu

**د خپرولو حق د کالیفورنیا پوهنتون له ریجینټز ډاویس څانګي سره، ۲۰۱۱. ټول حقوق خوندي دي.**